واحد فقیری هاری ۲۰۰۸/۱۱/۲۷م

# د طالبانو سره د سولي خبري؟

له ډېر وخت راهیسي د طالبانو سره د خبرو اترو، سولي، او روغي جوړي موضوع ډېره ګرمه ده. افغاني او غربي سیاسي حلقي، مطبوعات، او ځیني عالي رتبه مامورین پدې عقیدې دي چي د طالبانو سره باید د اور بند، سولي، او سیاسي روغي جوړي په باب خبري وسي. ځینو نرمو او په اصطلاح اصلاح سویو طالبانو ته په حکومت کي ونډه ورکړه سي. ځینو ته عفوه وسي، او د ځینو سره " د ګازري او سوټي"پالیسي عملي سي. د مکي شریفي غونډه، عربستان ته د ملا عمر د مهاجرت نوي اوازې، او ملا عمر او طالبانو ته د کرزي لخوا د سر او مال د ضمانت ګرمي وعدې د همدې کوښښونو یوه برخه ده. بلخوا، د امریکا نوي منتخب جمهور ریس باراک اوباما ژمنه کړېده چي پخپله دوره کي به افغانستان ته توجه لا زیاته کړي. نوې پالیسي، نوري منابع، او اضافه عسکر به هغه هېواد ته واستوي.

بل پلو، د طالبانو پرخلاف د قومي اربکیانو د تشکیلولو نقشي هم رواني دي. دغه راز، د طالبانو د تجریدولو او کمزوري کولو لپاره د قومي او سیمه ایزو مشرانو او خلکو سره د مرستو د کولو مفکورې هم ډېر پلویان لري. دوی ګومان کوي چي کېدای سي د افغانستان او پاکستان د پولو په اوږدو کي پراته پښتني اقوام د طالبانو پرخلاف مسلح سي. البته، پدې کي شک نسته چي القاعدې او طالبانو په سیمه کي ډېري وراني او ظلمونه کړي دي، خو امریکا نسي کولای چي د کرزي په حکومت کي اصلاح او بدلون راولي. په هر صورت، د عامه افغانانو او القاعدې تر مینځ پټ مګر زیاتېدونکی تاوتریخوالی بایدلا زیات سي. د عراق په شان قومي ملیشیاووي د طالبانو او القاعدې پر ضد وکارول سي. دا هغه نظریې او اندېښني دي چي د امریکا مهم چارواکي، پوځي مشران، سیاسي مبصرین، او په متحده ایالاتو کي د راتلونکي اداري مسولین نن سبا غور او فکر باندي کوي.

ځرګنده خبره ده چي د سیاسي او نظامي مخالفینو او دښمنانو سره خبري کول په اصل او پرنسیپ کي موجه او غوره ستراتیژي ده. د ملي ستونزو د حلولو لپاره د مخالفانو سره خبري کول یوه ضروري مسله ده. زیاتره جنګونه بالاخره د سولي په خبرو فیصله سویدي. نو بنا، د طالبانو سره خبري او روغه جوړه کول یو ضروري کار دی. په بل عبارت، د طالبانو سره خبري پخپل ذات کي بده خبره نده. د طالبانو په صفوفوکي درز اچول او له هغوی ځخه ځیني ډلي او سیمي را بېلول ښه او عملي پالیسي ده. په افغانستان کي، اکثره اوسني مخالفان د کابل د حکومت او د هغه د خارجي حامیانو له ظلم، زور زیاتي، او ناوړو پالیسیو په نتیجه کي را پیدا سوي دي. ځیني خلک له وچ مجبوریت ځخه غرونو ته ختلي دي. اکثره ځوانان سپېره فقر او پراخي بېکارۍ د طالبانو په صفوفو کي پاته کېدو ته اړ ایستلي دي. باقي پاتي خارجي بې کوره او وطنه عرب، چیچن، اوزبک، تاجیک او نور مذهبي ډلګیان د القاعدې په تور دام کي بند دي. ځینو نورو یاغیانو بیا_ البته د پردو په لسمون _د پښتني سیمو او ښارونو د بې امنی او خرابی ژمنه کړې ده. په بل عبارت، په افغانستان کي یوازې طالبان په نظامي ساحه کي ندي فعاله، بلکي هلته ډېري نوري ډلي سته چي د طالبانوسره چندان کنکشن او ارتباط نلري. د مثال په توګه، د قاچاقبرانو منظم او مسلح مزدور جګړه ماران، د محلي قومندانانو او مخورو کسانو شخصي مسلح ډلګیان، ظالم غله او بېشماره جنایتکاران، د شمال د ایتلاف وسلوال باندونه، او داسي نوري محلي او سیمه ایزي مسلح ډلي چي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي فعاله دي. په شمال کي، د پخواني جنګسالارانو او قومندانانو ظلم او ستم شپه و ورځ محلي خلک تهدیدوي. مطلب مي دا دی چي د ځینو طالبانو سره خبري کول د افغانستان سیاسي او نظامي بحران نه سي فیصله کولای.

زه پدې ټینګه عقیده لرم چي وایي: هغه ولسونه چي د خپل ځان لپاره حکومت نه سي جوړولای، پر هغو باندي نور خلک حکومت کوي. د همدې سیاسي اصل سره سم، افغانستان یو قوي مرکزي حکومت ته اړتیا لري چي ملک پخپله اداره کړي، امنیت ټینګ کړي او مالیات راغونډ کړي. امریکا او اروپایان باید پدې قانع سي چي د افغانستان حکومت ته باید د داخلي او خارجي پالیسیو په جوړولو کي زیاته ازادي او استقلال ورکړه سي. دا د افغاني حکومت د پایښت او مشروعیت خبره ده. د ژوند او مرګ مسله ده. افغانانو ته باید واک او اجازه ورکړه سي چي د خپل ولس ستراتیژیکي او مهم پلانونه خپله جوړ کړي. هیځ افغاني دولت ته ممکنه نده چي له یوې خوا د ځه د پاسه ځلویښتو خارجي هیوادونو ګټي وساتي، او له بلي خوا، د افغان ملت ګټي هم خوندي کړي. دا یو محال اندېول دی. کوه قاف ته


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ختل دي. هیڅ حکومت نسي کولای چي ددغو شرایطو لاندي د استقلال او یا ازادئ دعوه وکړي. که یې چیري وکړي هم، هیڅ څوک یې پر سورنا غوږ نه نیسي. ځکه هر عاقل او بالغ بني ادم پدې پوهیږي چي د دغو شرایطو لاندي د استقلال او ازادئ ادعا هسي خوشي خبري دي. تشي لاپي شاپي دي، او رډه سپین سترګي ده.

په افغانستان کي، تر بل هر شی اول باید حکومت جوړ سي. دولتي موسسات را ژوندي او تقویه سي. مرکزي حکومت ټینګ او غښتلی سي. د قانون حاکمیت خور سي. د تېرو اوو کلونو په جریان کي له بده مرغه د کابل حکومت بې پروګرامه، لټ، او شډل را وخوت، او د بلي خوا، خارجي حامیان یې یا د هر مشکل حل په نظامي عملیاتو او بمباریو کي لټوي، او یا په بې فایدې او عبثو خبرو کي. د بوش اداری نه غوښتل چي په افغانستان کي لمړی د هر اړخیز فقر، عامي بېکاری، محسوسي او ډارونکي لوږي، او د نورو په پېخر اقتصادي مشکلاتو غم وخوري، مګر غوښتل یې چي طالبان، القاعده، او نور مخالفان تباه او سټ کړي. یو څوک باید ښاغلی بوش وښوروي؛ را وېښ یې کړي؛ او بیا ورته ووایي: یاره! ځکه یې لا و الله که وکی.

زه عقیده لرم چي د خبرو ترڅنګ دي لمړی د هر څه تر مخه د نویو کارونو د خلقولو لاري چاري ولټول سي. اقتصاد دي غښتلی او پیاوړی سي. افغانانو ته دي دننه په افغانستان کي د کار او زحمت زمینه برابره سي. هغو طالبانو او یا نورو مخالفانو ته چي خپلي جبهې او مورچلونه پرېږدي، بې وسلي کېږي، او اساسي قانون او مدني حکومت مني، د هغوی لپاره دي امنیت، د کار ضمانت، او ارام محیط برابر سي. په افغانستان کي د یوه امن محیط ایجادول یوه حیاتي مسله ده. ددې ترڅنګ دي اقتصادي پرمختګ او ودي ته پوره توجه وسي. د بیاودانولو پروژې دي ګړندی او ډېري سي. د یوې ښې راتلونکي وعدې دي عملي سي. د هېواد په مختلفو سیمو کي دي د بیاودانولو په پروژو کي په لکهاوو بېکاره او روزګاره ځوانان استخدام سي. په ښارګوټو او کلیو کي دي د کار او بیارغوني فرصتونه برابر سي. ملي اقتصاد دي پر داخلي تولیداتو باندي جوړ سي. د برق، سړک، بندونو، پلونو، او اوبو لګولو پروژو ته دي پوره او جدي توجه وسي. په هېواد کي باید د وړو فابریکو د تاسیس سره پوره مرسته وسي. خصوصي پانګه اچونه دي تشویق سي. د هېواد په مېکرو او مکرو اقتصادي سکتورونو کي دي د خصوصي سکتور د را داخلولو لپاره پوره کوښښ او پانګه واچول سي. د مکتبونو، ادارو، کتابتونو، درسي کتابونو، او لابراتوارونو په برابرولو کي دي جدي ګامونه واخیستل سي. او تر ټولو مهمه، په درس او تعلیم کي دي د ننني ضروریاتو سره سم ستراتیژیک او په کافي اندازه منابع او پیسي ولګول سي. د عصري علومو ترویج او خورېدل دي محوري ټکی وټاکل سي.

زه عقیده لرم چي د کابل د اوسني حکومت او یو څو جنګي طالبانو تر مینځ خبري نتیجه نه ورکوي. ددې ادعا دلایل دا دي. دکابل حکومت د اوو کالو په ترڅ کي د افغانانو د اکثریت ملاتړ تر لاسه نه کړ. امنیت یې تامین نه کی. سیاسي اتوریټي او مشروعیت یې هډو سته نه. په ملک کي، اداري فساد او رشورتخوران نخري کوي. اقتصاد یا سته نه او یا پر مخدره موادو او خارجي بسپنو او چاندو راڅرخي. پراخي بېکاری، ګرانی، او فقر د خلکو بېخ وایست. د کرزي حکومت له هر لحاظه ناکامه دی. له یوه داسي حکومت څخه د هغه د ژوند په اخرو شپږو کي په دپلوماتیکه ساحه کي سیاسي معجزه غوښتل څرګنده ساده ګي او سپیره کم عقلي ده.

زه عقیده لرم چي سوله یوازي هله ټینګېدای سي چي عدالت او انصاف تامین سي. محکمې، قاضیان، او پولیس دخلکو ساتونکي وي. د یوې دایمي سولي پاینت د قانون حاکمیت، عدالت، او د خلکو ازاد ګډون ته اړتیا لري. واقعي او دایمي سوله د خلکو رشتین او باصلاحیته استازي او حکومت راوستلای سي. ډارن او بې ارمانه خلک د دایمي سولي او ثبات له راوستلو څخه عاجز دي. د نورو ولسونو تاریخي تجربې ښیي چي سیاسي استقرار او ثبات هغه وخت ټینګ سوی دی، چي ملي او دردمنو مشرانو د ملک واګي پلاس کي نیولي دي. د ملک ملي ګټي خوندي سویدي، او د اقتصادي پرمختګ لپاره ښې او موثري ستراتیژۍ وضع سوي دي. او بالاخره زه عقیده لرم چي د کرزي وروستی هلي ځلي او طالبانو ته د هغه ګرمي وعدې د انتخاباتو د ګټلو لپاره د هغه وروستي کوښښونه دي. هغه له مسلې څخه سیاسي استفاده کوي. هغه غواړي چي د ایتلافي قواوو د مرګانیو بمباریو سره د عامه افغانانو د مخالفت واګي پخپل لاس کي واخلي. هغه غواړي چي داسي وښیي چي ګواکي دی د ملي ګټو څخه دفاع کوي، او د طالبانو سره د خبرو کولو طراح هم دی دی.

والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de